پە نړۍ غې لە هرو لسو میندو څخه یوه یې په غیر صحي شرایطو کې د سقط له امله مري.

ډیری ناروغۍ چې د میرمنو او ماشومانو روغتیا تهدیدوي او د مړینې سبب ګرځي د زیږون نا مناسب وخت، نا مناسب شمیر، نا مناسب وقفو، غیر خوندي سقط او ډیر زیږون له امله رامنځ ته کیږي.



د امیندوارۍ د مخنیوي میتودونو اصلي موخه د میندو او ماشومانو د روغتیا ساتنه او د سقط مخنیوی ده.

**د هرې کورنۍ لپاره مناسب میتودونه توپیر لري.**

د مناسبه طریقی د معلوملو باید له ډاکټر/قابلې یا نرس سره مشوره وشي.

دا خپرونه د اروپایي ټولنې په مالي مرسته جوړه شوې ده. د دې محتویات یوازې او یوازې د ترکیې د جمهوریت د روغتیا وزارت مسؤلیت دی او د اروپایي اتحادیې نظرونه نه منعکس کوي.

**مناسب ځای، ښه خدمت**

د نورو معلوماتو او ملاتړ لپاره خپل نږدې د مهاجرو روغتیایی مرکز ته ورشئ.

sihhat

www.sihhatproject.org

sihhatproject

This project is funded by the European Union.
Bu proje Avrupa Birliği tarafından finanse edilmektedir.
هذا المشروع تم تمويله من قبل الاتحاد الأوروبي

# دونه ماشومان چې تاسو پاملرنه ورته کولای شې.



sihhat

دا د میرمن لپاره یو له خورا اساسي بشري حقونو څخه دی چې په ازاده توګه پریکړه وکړي چې کله، په کوم وقفه کې، او څومره ماشومان وزیږوي.

د زیږون څخه شاوخوا یوه میاشت وروسته، ښځه د تناسلي مجرو تولید پیل کوي. **نو، د امیندوارۍ** د مخنیوي طریقه لږترلږه باید د زیږون ورسته په یوه میاشت کې وکارول شي او له سقط څخه وروسته نږدې یوه اونۍ وروسته پیل کړل شي.

## هغه شرایط چې د مور او ماشوم ژوند په خطر کې اچوي.



د تناسلي سیستم نیمګړتیا، د هډوکي چوکاټ او روحاني پراختیا له امله د **18 کلنۍ څخه** مخکې د انجونو امیندوارۍ او زیږون ممکن د مور او ماشوم ژوند له خطر سره مخامخ کړي.

**د 35 کلنۍ وروسته زیږون؛** په ماشوم کې رواني ستونزې او په مور کې کولی شي د جدي ناروغیو لکه د وینې لوړ فشار او شکر لامل شي.

**د 2 کلونو څخه د لنډ مهال امیندوارۍ په صورت کې؛** په نوي زیږیدلي ماشوم او مور کې روغتیایي ستونزې رامنځ کیدی شي، ځکه چې د بدن ذخیره په بشپړه توګه نه وي ډکه شوې. د پاملرنې د اختلال له وجې په بل ماشوم کې کیدای شي؛ فزیکي روانی او ټولنیزې ستونزې واقع شي.

**له 4 څخه ډیر امیندوارۍ؛** په مور کې په یووالي کې مهمې ناروغۍ لکه د ادرا بې نظمۍ، د رحم سرطان، د زړه ناروغۍ رامنځته شي؛ دا کولی شي په ماشومانو کې د پاملرنې ستونزې، وده او پرمختیاي ځنډ رامنځته کړي.

## د امیندوارۍ د مخنیوي میتودونه

### د نه کارولو په صورت کې سمدستي د امیندوارۍ کیدلو طریقې



**کنډوم (هوډ، پوښ)** په سمه توګه کارولو په صورت کې ډیر اغیزمن دی. همدارنګه د جنسي اړیکو له لاري د انتقالیدونکي انتاناتو او ناروغیو لکه هچ آی وی/ آیډز، ګونوریا، سیفیلس، هیپاتیت بی (زیړي) څخه مخنوي کوي.



**ګولۍ باید** هره ورځ وکارول شي. ګولۍ د زیږون کنترول سربیره نورې ګټې هم لري: د انیمیا مخه نیسي، د میاشتې درد کموي، او د رحم د سرطان د پراختیا خطر کموي.



**د انټروټرین وسیله یو کوچنۍ،** پلاستیکي وسیله ده چې دپه رحم کې کیښودل کیږي. که لرې نه شي، دا ډ 10 کلونو لپاره د امیندوارۍ مخه نیسي، ددې اله په لرې کولو سره برته سم دستي د امیندواره کیدونکي ده.



**ستنې** یا پیچکاري د ښځینه تخمدان څخه ډ تناسلي حجرو رحم ته د داخلیدو مخه نیسي چې په نتیجه کې د امیندوارۍ مخنیوي کیږي.

### د نه امیندوارۍ ابدي میتودونه

**د نارینه د تخمو د کانال تړل (واسیکټومي)**

د نارینه تخمود کانال تړل چې په یو ډیر کوچني جراحي پروسیجر سره تر سره کیږي، خو دا میتود سمدلاسه تاسي نه ژغوري. دا اړینه ده چې لږترلږه د دوو میاشتو لپاره جنسي اړیکه ونشي یا هم بله طریقه وکارول شي.

**د ښځو د تخمدان کانال تړل ( ټیوبلر لیګیشن)**

د میرمنو د تخمدان په یو جراحي تړل کیږي او په دي توګه، د نارینه او ښځینه تخمۍ (هګۍ او سپرم) نشي کولای یو ځای شي او امیندوارۍ نه رامنځته کیږي. دا طریقه سمدستي تاسو له امیندوارۍ ژغوري.